**د اسلامي نړۍ پوځونه زموږ پوځونه دي؛ باید خپل له لاسه تللی اختیار بیرته تر لاسه کړو!**

**(ژباړه)**

په غرب کې د امت دښمنان مسلمانان له خپلو هغو اسلامي افکارو او مهمو شرعي احکامو څخه منحرفوي چې د ژغورنې لار یې پکې ده. دا هر څه د دې لپاره کوي چې مسلمانان هېڅکله له دغه ذلت او انحطاط څخه ونه شي وتلی. د غرب دا هڅې د دې لپاره دي چې مسلمانان د جهالت په کنده کې پاتې شي او له دغې کندې د وتلو لار ونه لري؛ په تیارو کې وتپېږي، لاس او پښې ووهي او په پایله کې نهیلي شي؛ خپل اوسنی واقعیت ومني، پرې راضي شي او تر ناکامو تجربو وروسته له خپلو هڅو لاس اخیستل ځانته توجیه کړي.

له دغو گمراه کوونکو افکارو څخه یو فکر دا دی چې امت د اسلامي نړۍ پوځونه د ځان دښمن وبولي او د طاغوتي او مزدورو حکامو له ډلې یې حساب کړي. په داسې حال کې چې د اسلامي نړۍ پوځونه په حقیقت کې زموږ پوځونه دي، د امت پوځونه دي؛ یوازې قومانده یې زموږ له لاسه وتلې. اوس پر موږ واجب ده چې له لاسه ورکړې قومانده او اختیار بیرته تر لاسه او خپل پوځونه پر هغه لور چې د الله سبحانه وتعالی رضا او د دوی بنسټیزه موخه ده، وخوځوو. د پوځونو د موجودیت موخه هغه څه ده چې الله سبحانه وتعالی یې موږ ته امر کړی؛ د کورني امنیت تامین، له بهرنیو دښمنانو سره جهاد او د اسلام پراخوالي او لېږد.

دغو پوځونو ته معاش او وسلې زموږ له پیسو ورکول کېږي. دغه پوځونه زموږ له مقدساتو، حرمتونو، خاورو او ښارونو د ساتنې لپاره رامنځته شوي. دغه پوځونه اساساً له دښمنانو سره د مبارزې او د مقدساتو او حرمتونو د ساتنې لپاره جوړ شوي دي. دغه پوځونه هېڅکله د ظالمانو د څوکۍ او تخت ساتنې لپاره نه دي. نو پر هغوی واجب ده او الله سبحانه وتعالی پرې فرض کړې چې نه یوازې د امت مرستې او نصرت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته د لاسنیوي لپاره ور ودانگي؛ بلکې د ټولو کمروزو او مظلومانو لاسنیوی وکړي، ان که مسلمانان هم نه وي.

اوس د ټولې نړۍ مسلمانان لاریونونه او داوطالبانه مرستې کوي؛ لاس په دعا دي او له پوځونو څخه غواړي چې سره یوځای شي او د غزې د ماشومانو او ښځو چیغو او نارو ته لبیک ووایي او د غزې مجاهدینو مرستې ته ور ودانگي؛ دغو مجاهدینو له ټولو څخه د مرستې او نصرت غوښتنه کړې او غواړي چې امت یې تر څنگ ودرېږي؛ نو د مسلمانانو پوځونه څه کوي!؟

د رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته د دعا امر شوی، خو هېڅکله یې پر دعا بسنه نه ده کړې. رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو کسانو په اړه راته ویلي چې ټولې لارې پرې بندې شو او باران اړ کړل چې یوه غار ته ننوځي؛ یوه لویه ډبره راولوېده او د غار خوله یې بنده کړه. دوی هڅه وکړه چې خپله لار خلاصه کړي، خو بریالي نه شول. دغه وخت یې د دعا پر مهال خپل نېک عملونه الله سبحانه وتعالی ته وړاندې کړل، تر دې چې الله سبحانه وتعالی د هغوی مرسته وکړه، ډبره لرې شوه او دوی وژغورل شول.

خو چاته چې الله سبحانه وتعالی شرعي حکم روښانه کړی وي، خو عملي کوي یې نه، حللاره نه لټوي او پر ځای یې یوازې پر دعا بسنه وکړي؛ په دې کې شک نشته چې هغه گناهکار دی او هېڅکله به له هغې بلا خلاص نه شي چې ورسره مخ دی؛ مگر دا چې هغه حل لاره او درملنه عملي کړي چې الله سبحانه وتعالی یې امر کړی. نو که موږ یوازې پر دعا بسنه وکړو، گناهکاره به وو! که څوک ډوبېږي، دعا یې ژغورلی شي!؟ که یو انسان ووینئ چې ستاسو د سترگو پر وړاندې په اوبو کې ډوبېږي، دعا ورته کوئ!؟ ورته ژاړئ!؟ ایا لاریونونه کوئ چې کېدای شي الله سبحانه وتعالی یې وژغوري!؟ او که باید لامبوزن ځان اوبو ته واچوي او ډوبېدونکی کس وژغوري. امت هم لاس او پښې خوځوي او چیغې وهي چې هغه کسان چېرې دي چې ډوب شوي وژغوري!؟

نن ورځ په غزه کې الوتکې بمبار کوي؛ نو د مسلمانانو الوتکې چېرته دي!؟ د مصر، ترکیې او اردن پوځونه د نړۍ تر ټولو مډرنې الوتکې لري، نو د کوم وخت او کومو کسانو لپاره یې ساتي!؟ اې د اسلام اتلانو! اوس د دغو وسلو د کارولو وخت دی؛ لکه د ترکیې یو افسر، تنتاش چې وویل: «موږ

چې له محمد صلی الله علیه وسلم سره د جهاد بیعت کړی، نور به ژوندي پاتې نه شو.» هغه وسله یوازې د دې لپاره ګرځوله چې د روسیې سفیر ووژني او د سوریې د مسلمانانو غچ واخلي.

لکه د مصر د پوځ اتل، محمد صلاح چې خپل ځان یې الله سبحانه وتعالی ته وقف کړ، یهودیانو ته یې سپکاوی وکړ او تر هغه یې چې په تن کې ساه وه، د هغوی زرګونه کسان یې ووژل او زخمي یې کړل. دوی هماغه د اسلام اتلان دي. دا د محمد صلی الله علیه وسلم د پوځ ممثلین دي. هو، له دغه واقعیت سره دغه پوځونه د حکامو نه، بلکې د امت پوځونه دي. باید هڅه وشي چې د هغوی قومانده له ظالمو او طاغوتي حکامو څخه واخیستل شي او امت ته وسپارل شي.

په ربښتیا هم د اسلامي خاورو حکامو ته کومه هیله نشته، په ځانګړې ډول د یهودي غاصب رژیم شاوخوا اسلامي خاورو؛ لکه مصر، سوریې، اردن، لبنان حکامو او دغه راز اردوغان ته. اردوغان په خپلو شعارونو د امت ځینو بچیانو ته دوکه ورکوي او هغوی ورته هیله‌مند دي، خو د غزې په جګړه کې یې دوکه او نفاق ښکاره شو. غزه په اور کې سوځي خو دی تشې غندنې کوي او اوربند غواړي؛ یرغلګر او هغه ځوک چې یرغل ورباندې شوی، برابر ګڼي. په داسې حال کې چې اوس د وسلو او الوتکو استولو وخت دی. اردوغان هغه ځوک دی چې اوکراین ته یې الوتکې ولېږلې او ویې ویل چې باید ټول اوکراین ازاد شي؛ خو غزې ته یې یوازې اوبه او کفن واستول.

هغه اوبه او کفنونه چې ډېر یې په رفح کې ظبط شول او تر اوسه غزې ته د داخلېدو اجازه نه ده ورکړل شوې؛ یوازې یوه کوچنۍ برخه یې رسېدلې. اردوغان الوتکې لري، نو ولې یې له مسیحي کفارو سره مرسته وکړه، خو له مسلمانانو سره یې نه کوي؟ ایا د مظلومو او کمزور مسلمانانو ملاتړ لومړیتوب نه دی!؟ که له هغه سره د دین او صداقت په نوم څه پاتې وي، نو پوځونه دې بسیج کړي، دا د جهاد وخت دی.

موږ باید د خپلو پوځونو قومانده بیرته تر لاسه کړو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم رایه «بیرغ» ورپوو. زموږ پوځونه باید زموږ پر وړاندې نه وي، بلکې باید زموږ لپاره ځواک او قوت وي. هغه ځواکونه او قوت چې په غزه او ټولو ځایونو کې د مسلمانانو ساتنه او ملاتړ وکړي؛ داسې نه چې د خاینو حکامو، لکه د اردن پادشاه، د مصر فرعون او نورو طواغیتو او ظالمانو د څوکیو ساتلو په خدمت کې وي چې د مسلمانانو پر ټېر ناست دي.

لومړی پیغام دا دی چې اوس د اسلامي خاورو د پوځونو راپورته کېدو او لاس پکار کېدو وخت دی. اوس هغه وخت دی چې د اسلامي امت پوځونه د ظالمو او طاغوتي حکامو د تصمیمونو پر وړاندې قیام ورکړي، د غزې د سړیو، ښځو او ماشومانو چیغو او نارو ته لبیک ووایي او د الله سبحانه وتعالی د تر ټولو ناوړه دښمنانو پر وړاندې له مجاهدینو سره یوځای شي.

دویم پیغام د محمد صلی الله علیه وسلم امت ته دا دی چې اې د محمد صلی الله علیه وسلم امته! پوځونو ته پر هغه څه خطاب وکړئ چې الله سبحانه وتعالی پر هغوی فرض کړي او هغوی جهاد، د ظالمو او طاغوتي حکامو اطاعت نه کولو او پر ټولو اطاعتونو د الله سبحانه وتعالی د اطاعت مقدم کولو ته راوبولي او ورته ووایي چې که د مخلوق په فرمانبرداری کې د خالق نافرماني وي، په هېڅ صورت جواز نه لري.

دریم پیغام هم امت ته دی، طاغوتي او ظالمو حکامو ته نه دی؛ بلکې د محمد صلی الله علیه وسلم امت ته، د محمد صلی الله علیه وسلم فعالانو ته، د محمد صلی الله علیه وسلم په امت کې د قدرت څښتنانو ته! امریکا په دې لټه کې ده چې د فلسطین قضیه د دوو دولتونو حللارې پر بنسټ حل کړي؛ داسې د فلسطین ۷۸ سلنه خاوره یهودو دولت ته ورکوي او یوازې ۲۲سلنه خاوره چې د یوه ولایت مساحت کېږي او غزه، لوېدیځه غاړه او د مسجد الاقصی او ابودیس یوه برخه پکې شاملېږي، له فلسطین سره پاتې کېږي؛ دا به یو غیر نظامي او بې وسلو دولت وي. هغه هم داسې چې د اسلامي نړۍ ټول ظالم او طاغوتي حکام به د صهیونستي رژیم شتون په رسمیت پېژني.

دا همغه امریکایي پروژه ده چې امریکا او مزدوران یې، د اسلامي خارو خاین حکام د هغې د ترسره کېدو لپاره هڅه کوي او ورته لېواله دي - الله تعالی خو دې دوی ټول تباه کړي. په داسې حال کې چې د غزې پر خلکو بمبار کېږي، سړي، ښځې او ماشومان وژل کېږي، غزه له ځمکې څخه د

ورکېدو په حال کې ده؛ خو وینو چې د اسلامي خاورو حکام تل د دوو دولتونو حل لاره وړاندې کوي. هغه پروژه چې له څو اونیو راهیسې د مصر کنفرانس د خاینو ګډون کوونکو له خوا تکراري مطرح کېږي چې د دوو دولتونو حل لاره او اوربند دی. په داسې حال کې چې دا هغه حل لاره نه ده چې الله سبحانه وتعالی پرې راضي وي، بلکې دا هغه حل لاره ده چې الله سبحانه وتعالی ناراضه کوي، امریکا خوشحالوي او د امریکا د سیاست او مصلحت په ګټه ده.

نه، په الله دې قسم وي چې تاسو ناکام، ذلیل او رسوا شوئ او هر کس چې هغه ته دعوت شو، هغه هم ناکام او رسوا شو، ځکه د یهودو پر وړاندې حل لاره دا ده چې د یهودو دولت بشپړ له منځه ولاړ شي او د فلسطین تر ازادۍ پورې په دې برخه کې شرعي حکم جهاد دی.

هر کله چې موږ له دې وړې او په هېڅ شمار ډلې سره -چې د نړۍ له لېرې ځایونو څخه زموږ زړه او د اسلامي نړۍ زړه ته راغلي دي- تر مبارزې وروسته سره راټول شوي یو او بیا راټولېږو؛ د هغوی تر هرې ماتې او جګړې وروسته وینو چې طاغوتي او ظالم حکام تر جګړې وروسته قضیه په یوه نوي سیاسي خیانت بدلوي. دغه کسان، چې له مسلمانانو سره یې خیانت وکړ او له دښمنانو سره یې د مسلمانانو د جهاد مخه ونیوله؛ وینو چې د شهیدانو له وینو سره خیانت کوي او د مسلمانانو د قربانیو د بې ځایه کولو لپاره راپورته کېږي.

وینو چې نه یوازې د مسلمانانو د بریا قوت او ځواک یې تیت‌پرک کړی او د هغوی بریا له خاورو سره خاورې کوي؛ بلکې هغوی ته یې سیاسي ماتې ډالۍ کړې او په خبرو اترو کې یهودیانو ته هغه څه په لاس ورکوي چې دښمن هېڅکله نه دی توانېدلی چې د جګړې په ډګر کې یې تر لاسه کړي.

موږ ټولو ته د دې مسلې په اړه خبرداری ورکوو او په سر کې یې د غزې خلکو، مجاهدینو او د محمد صلی الله علیه وسلم پاتې امت ته وایو: «مه پرېږدئ چې هغوی ستاسو بریا، مبارزه او ثبات درنه غلا او په سیند لاهو کړي».

د فلسطین د قضیې د حل لپاره یوازې دا یوه لاره ده چې ټول فلسطین ازاد شي. فلسطین د مسلمانانو د ملکیت خراجي خاوره ده او باید بېرته مسلمانانو ته ورکړل شي. په دې خاوره کې صهیونیستي، یهودي او یا صلیبي ته هېڅ ځای نشته. دا خاوره د قیامت تر ورځې د محمد صلی الله علیه وسلم په امت پورې اړونده ده او یهودیان هغه کسان دي چې الله سبحانه وتعالی یې د ذلت په اړه موږ ته خبر راکړی. موږ تر دې وړاندې هغوی په جګړه کې تجربه کړي دي. که تاریخ، قران او د عدنان پیغمبر سنت ولولئ، پوهېږئ چې موږ څنګه له یهودیانو سره وجنګېدو. دا د غزې خلکو، ټولو مسلمانانو او د قدرت هغو څښتنانو ته زیری دی چې د داسې فرصت په تمه دي چې د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جهاد ته ور ودانګي.

تاریخ ته ور وګرځئ: موږ د بني قینقاع، بني النضیر، بنی قریضه او د خیبر له یهودیانو سره وجنګېدو او له یهودو سره مو څلور جګړې وکړې. د هغوی وسلې مو په غنیمت ونیولې، خاورې مو ترې ازادې کړې او د هغوی سړي او ښځې مو بندیان کړل. څه یې چې په لاس کې وو، د مسلمانانو غنیمت شول. هغوی یو ځل هم موږ ته ماتې رانه کړه، خو موږ څو ځله هغوی بندیان او وسلې مو یې په غنیمت کې ونیولې. انشاءالله چې د یهودو اوسنی رژیم او کومې وسلې چې نن ورسره دي، ژر به د محمد صلی الله علیه وسلم د امت مال شي. دا مو د سر په سترګو ولیدل، یوازې د مجاهدینو یوه ډله هغوی ته ور واوښتل، دېوال یې ونړاوه، او ومو لیدل چې څه پېښ شول!؟

﴿ٱدخُلُواْ عَلَيهِمُ ٱلبَابَ فَإِذَا دَخَلتُمُوهُ فَإِنَّكُم غَٰلِبُونَ...﴾ [مائده: 23]

**ژباړه:** *له دغې دروازې پر هغوی برید وکړئ او چې هلته دننه شوئ، هرو مرو بریالي کېږئ...*

لسګونه او ان سلګونه یهود ووژل شول او زرګونه نور د مجاهدینو له کوچنۍ ډلې څخه وتښتېدل. موږ پخپلو سترګو ولیدل چې مجاهدینو څنګه هغوی له ټانکونو څخه را وایستل، وسلې یې ترې واخیستې او تر ټولو پیاوړو نظامي اډو ته یې لاس رسی پیدا کړ. موږ ولیدل چې څرنګه یهودیان په فردي او ډله‌ییزه بڼه وتښتېدل. په الله قسم، په الله قسم او په الله قسم چې دغه خلک د محمد صلی الله علیه وسلم له امت سره د جګړې او مخامخ کېدو وس نه لري.

هېڅکله له هغه پوځ سره مبارزه نه شي کولی چې جهاد یې اعلان کړی او د محمد صلی الله علیه وسلم بیرغ یې پورته کړی دی.
اې اسلامي امته! تاسو تر ټولو غوره امت یئ چې د خلکو د هدایت لپاره پیدا شوي یئ! په تاسو کې خیر دی او الله سبحانه وتعالی له تاسو سره ژمنه کړې. کله چې الله سبحانه وتعالی مسلمانانو ته خبر ورکړ چې له یهودو سره جګړه کوي او د الله سبحانه وتعالی په مرسته بیت المقدس ازادوي، ښایي بیت المقدس د اسلام د رهبرۍ مرکز او د زیري ورکړل شوي راتلونکي اسلامي دولت پلازمېنه وي.
اې اسلامي امته! الله سبحانه وتعالی له تاسو سره د روم د فتحې ژمنه کړې. اې اسلامی امته! په یاد ولرئ چې الله سبحانه وتعالی له تاسو سره د یهودو د له منځه وړلو او پر ټوله خاوره د حکومت کولو ژمنه کړې. ډېر ژر به بیت المقدس د دار الاسلام مرکز او د اسلامي دولت پلازمېنه شي! انشاءالله! اې اسلامي امته! د الله سبحانه وتعالی ژمنه ستاسو په تمه ده، د الله سبحانه و تعالی نصرت ستاسو په تمه دی! یوازې دا بسنه کوي چې له الله تعالی سره وئ او د الله سبحانه وتعالی د فرمان پلي کولو لپاره هڅه وکړئ. تاسو د الله سبحانه وتعالی شریعت حاکم کړئ، د ظالمو او طاغوتي حکامو تخت له منځه څې. د بیت المقدس د ازادۍ لپاره جهاد اعلان کړئ او له خپلو ورونو سره په قدس او غزه کې یوځای شئ.
له علی او قدیر الله تعالی څخه غواړم چې مسجد الاقصی زموږ په ژوند او لاسونو ازاد او زموږ په برخه شي چې ژر تر ژره هلته پر امیرالمومنین پسې لمونځ ادا کړو...! له علی او قدیر الله تعالی څخه غواړو چې د مجاهدینو قدمونه ثابت کړي، هغوی ته قوت ورکړي او پر دښمنانو یې بریالي کړي. همدارنګه ناروغانو او ټپیانو ته یې شفا ورکړي او د شهیدانو شهادت قبول کړي...!
اې د غزې خلکو! تاسو اوس علماوو، ځوانانو، سپینږیرو، ماشومانو او د امت مشرانو ته ایمان، استقامت او قرباني ورښیئ! الله سبحانه وتعالی خو دې ستاسو قدمونه همداسې ثابت کړي، د هغه سبحانه وتعالی په امن کې شئ او هغه سبحانه و تعالی خو دې ژر نصرت درکړي! الحمدالله چې الله سبحانه وتعالی موږ د محمد امت، د جهاد امت او د اسلام له احکامو څخه د ستر حکم امت کړو.
اوس: د محمد صلی الله علیه وسلم د امت منادي د حی الجهاد غږ کوي! څوک شته چې غږ ته یې لبیک ووایي!؟ چېرته دي د مسلمانانو پوځونه چې د الله سبحانه وتعالی دین ته د نصرت ورکولو پر لور ودانګي؟ د مسلمانانو پوځونه چېرته دي چې د اسلامي خلافت پوځ جوړ کړي، هغه پوځ چې د یهودو رژیم به له منځه یوسي او د دغه رژیم کافرو ملاتړو دولتونو ته به یې خپل حد ور وښیي!؟ مستعان الله تعالی فرمایي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُوٓاْ أَنصَارَ ٱللَّهِ...﴾ [صف: ۱۴]

**ژباړه:** *اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، د الله (سبحانه و تعالی) انصار شئ...!*

**الوعی مجله: ۴۴۸-۴۴۹مه ګڼه**

**۱۴۴۵هـ.ق د جمادي الاول ـ جمادي الثاني میاشتې**

**د ۲۰۲۳م کال ډیسمبر او د ۲۰۲۴م کال جنوري میاشت**

**لیکوال: الشیخ الدکتور محمد ابراهیم**

**د حزب التحریر ـ ولایه لبنان مطبوعاتي دفتر رییس**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**